کله چې په تاسو کې یو څوک مجلس ته لاړ شي نو په خلکو دې سلام واچوي او کله چې غواړي ترې لاړ شي نو بیا دې هم پرې سلام واچوي، ځکه لومړی سلام د وروستي سلام په اړه کوم ځانګړی لومړیتوب نه لري

له ابو هریره رضی الله عنه څخه روایت دی وایي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي: "کله چې په تاسو کې یو څوک مجلس ته لاړ شي نو په خلکو دې سلام واچوي او کله چې غواړي ترې لاړ شي نو بیا دې هم پرې سلام واچوي، ځکه لومړی سلام د وروستي سلام په اړه کوم ځانګړی لومړیتوب نه لري".

[حسن] [ابو داود، الترمذي او النسائي په الکبری کې او أحمد روایت کړی دی]

رسول الله صلی الله علیه وسلم لارښوونه کړې چې څوک یو مجلس ته لاړ شي، نو پر هغوی دې سلام واچوي، او کله چې غواړي له هغه ځایه ښرته ولاړ شي، نو په سلام سره دې الله په اماني وکړي، ځکه د راتلو پر مهال لومړی سلام د الله په امان پر مهال په دویم سلام کوم لومړیتوب نه لري.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/3173